ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.4 No.3 2021

# د ډاکټر علي خېل دریاب په شاعرۍ کښې رجائیت : یو څېړنیز جاج

# OPTIMISM IN THE POETRY OF DR. ALI KHEL DARYAB: A RESEARCH REVIEW

**لیلیٰ گل**

ایم فل ریسرچ سکالر، شعبہ پشتو یونیورسٹی آف ملاکنڈ

**ڈاکٹر بادشاہ روم**

ایسوسی ایٹ پروفیسر، شعبہ پشتو یونیورسٹی آف ملاکنڈ

**Laila Gul**[1]
**Dr. Badsha-i-Rome**[2]

## Abstract

*Dr.Ali khel Daryab, a multifaceted Pashto poet, is renowned for the optimism that pervades his works. Central to his poetry is a deep sense of hope, which he expresses in numerous verses. His optimism is not only a reflection of personal belief but also a vision for his love, his nation, the future of its new generation, and the essence of life itself. This article examines the various dimensions of optimism in Ali's poetry, highlighting how his hopeful outlook transcends individual circumstances to address broader societal and generational concerns. Through an in-depth analysis of key poems, the article explores how Ali's verses foster a sense of hope and resilience, offering inspiration to readers across generations. This research contributes to a greater understanding of Ali's poetic vision, serving as a valuable resource for scholars and students alike, especially those interested in Pashto literature and the thematic exploration of hope in poetry.*

**Key words :** Ali khel Daryab, Pashto, poetry , optimism , deep sense , verses, reflection , belief , vision, love, nation, future , new generation, essence , life , various, dimensions ,

رجائیت اصل ئې د عربۍ ژبې رجاء دے ،معني' ئې د هیلې یا امید ده . پښتو کښې متل دے چې دنیا په امید خوړلې شي- هم په دغه تناظر کښې رجائیت د انساني ژوند د تېرولو یو مهم عنصر او توکے دے- انسان که د ژوند په هر رنګه کړمو، مشکلاتو او مسلو کشالو کښې راګېر شي، تنګ او ستړے شي خو چې دا خیال کوي چې دا ګران وخت او سخته به تل نه وي بلکې دا به تېره شي او راحته به راشي- نو دې ته رجائیت یا امید وئیلې شي- کوم کښې چې د وړاندې ژوند او مستقبل یو لوئے راز پټ پروت دے- او دا شان هم دغه امید دے چې ژوند د جمود ښکار کېدو ته نه پرېږدي-

دا رنګ د امید متضاد نا امیدي او مایوسي ده او کوم انسان چې د نا امیدۍ یا مایوسۍ ښکار شي نو د هغه د ژوند ګاډے په ټپه اودرېږي، د وړاندې تګ نه پاتې شي او په هر ډګر کښې د ناکامو سره مخ شي- او کله کله بې حده نا امیدي هغه د ژوند نه په لاس وینځلو هم مجبوره کړي.

د رجائیت د لغوي او اصطلاحي معنو په لړ کښې پروفېسر انور جمال لیکي چې:

''رجائیت (انگریزي Optimism) : تنقید اور نفسیات کي ایک اصطلاح ہے۔ رجا عربي زبان میں امید کو کہتے ہیں۔ ادبي اصطلاح کے طور پر آرزو مندي زندگی سے محبت اور پر امید لہجہ اختیار کرنا رجائیت کہلاتا ہے۔ شاعري میں ایسے موضوعات اختیار کرنا جن سے عزم، حوصلہ اور امید کے جذبات پیدا ہو، رجائیت ہے۔ رجائیت قنوطیت کي ضد ہے۔'' [1]

---

[1] *M.Phil Research Scholar at Pashto Department University of Malakand*
[2] *Associate Professor at Pashto Department University of Malakand*

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.4 No.3 2021

ژباړه :رجائیت (انګریزي Optimism) د تنقید او نفسیات یوه اصطلاح ده۔ رجا په عربۍ ژبه کښې امید ته وئیلې شي۔ د ادبي اصطلاح په طور آرزومندي، د ژوند سره مینه او د امید نه ډکه لهجه اختیارول رجائیت دے۔ په شاعرۍ کښې داسې موضوعات اختیارول کوم چې د عزم، حوصله او امید جذبات اوزېږوي، رجائیت دے۔ رجائیت د قنوطیت اپوټه دے۔

دا رنګ فضل میر خټک د رجائیت د لغوي او اصطلاحي معنو او د دې د قسمونو په حقله لیکي چې:

1. دا عقیده لرل چې په دنیا کښې به نېکي په بدۍ غالبه وي رجائیت دے۔
2. د امید پرورۍ، امید پرستۍ، خوش امیدۍ دا رجحان چې د هرې معاملې انجام به ښه وي۔

مولوي عبدالحق ورته رجائیت وائي۔

د ادب په اصطلاح کښې د هر شي او هرې واقعې روښانه اړخ باندې نظر ساتل او د مستقبل په حقله پرامیده اوسېدل رجائیت دے۔ داسې یو کس چې په رجائیت باور لري رجائي دے۔

علامه اقبال هم دا نظریه لرله۔ د هغه وېنا ده چې د قوم د ژوند دپاره د هغه د قوم ادب رجائیه پکار دے۔

رجائیت په دوه قسمه دے۔ یو داسې مجهول غوندې رجائیت چې د عمل په ځائے پکښې د حالاتو او د وختونو د بدلون انتظار کولې شي۔

بل د دې په مقابله کښې فعال رجائیت دے چې د روښانه مستقبل هلې ځلې کوي او د وړو وړو ناکامو پرواه نه کوي۔ او د خپل روښانه مستقبل په حقله پرامید وي" ۔ [2]

که مونږ اوګورو نو امید زمونږ د هر عمل سره لکه سېوري تګ کوي۔ مونږ چې په هر عمل لاس پورې کوؤ نو په دې امید چې دا به زه اوکړم، ترسره به ئې کړم، ښه به ئې اوکړم، کامیاب به شم پکښې، د نورو نه به ئې غوره اوکړم۔ داسې په غم کښې د خوشحالۍ، په سخته کښې د راحتې او په ناکامۍ کښې د بیا کامیابېدو امید لرل، که څه بده هم راپېښه شي نو د هغې د سمولو او ټیک کولو امید هم ارومرو زمونږ په ذهنونو کښې وي۔ او بیا په حېثیت د مسلمان د الله تعالیٰ نه د خپلو ګناهونو د بخښنې او د رحمت اُمید ساتل خو زمونږ د ایمان برخه ده۔ دغه رنګ د خپل ذات نه سربېره د بل انسان نه د ښه اُمید ساتل، د دنیا او حالاتو د سمې اُمید ساتل۔ غرض د هر څه نه د خپل غرض او توقع مطابق اُمید لرل د انسان یو داسې عمل دے چې ډېر زیات ضروري او مهم دے۔

د رجائیت یا اُمید پرستۍ تلقین مونږ ته زمونږ دین اسلام هم کوي او نااُمیدي د ګمراهۍ سره تعبیروي۔ لکه په یو آیت مبارک الله تعالیٰ فرمائي چې،

"وَمَنْ يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّهٖٓ اِلَّا الضَّاۗلُّوْنَ" ۔ [3]

ژباړه : د خپل رب د رحمت نه څوک نااُمید دي مګر هغه چې ګمراه شول۔

قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓي اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ" ۔ [4]

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.4 No.3 2021

ژباړه : اوواېه ورته اے زما بندېګانو چا چې په ځانونو زياتي کړي دي تاسو د الله د رحمت نه نااُميد مه شئ -

رجائيت په ادب کښې هم ځانله يو پوخ او ځانګړے ځائے جوړ کړے دے او بيا په خاصه توګه په شعري ادب کښې دې لکه د يو موضوع حېثيت اختيار کړے دے- ځکه چې د حالاتو د کړمو، سختۍ او ستونزو سره سره د هغې د سمون اُميد د يو بل سره کلک تړون لري- او په کلام کښې د خراب او ناوړو حالاتو د سمون دپاره د اُميد عنصر زېږول د شاعرانو دپاره په کلام کښې د وخت ضرورت دے- که چرې دا عنصر پکښې نه وي نو هغه کلام د انساني ژوند د بقا او سوکالۍ مقصد په ترلاسه کولو کښې ناکامه وي او يوه نااُميده معاشره زېږوي- ځکه چې شعر و شاعري د ادب څانګه ده او ادب د ژوند ترجمان وي نو په دې اساس رجائيت چې ژوند ته هيلې بخښلو يو مهم صفت دے د ادب د تخليقکارو دپاره يوه داسې وسله ده په کومې چې هغوي د ژوند د نااُميدۍ ښکار کوي-

پښتو کښې د رجائيت په حواله يو شمېر شاعرانو د فکر نيلي زغلولي دي . چې يوه نامه پکښې د ډاکټر علي خېل درياب هم ده څوک چې د ملاکنډ د ادب خېزه ضلعې سره تعلق لري او د نوي کهول په اعلیٰ تعليم يافته شاعرانو کښې شمېرلے شي- د شعر و شاعرۍ په مېدان کښې هغه تر دې دمه د اتو شعري ټولګو خالق دے په کومو کښې چې هغه د شاعرۍ په بلها موضوعاتو شعر ليکلې دے . او د پښتوشعري ادب پنګه ئې د معيار او مقدار دواړو له رويه درنه کړې ده-

د ډاکټر علي خېل درياب د شاعرۍ په ګلدسته کښې د هرې موضوع د ګلونو سره سره د رجائيت ګلاب هم شتون لري او په دغه حواله هغه د ژوند په هره سخته او ستونزو کښې د اُميد لمن کلکه نېولې ده او د خپل کلام په ذريعه د روښانه اُميد مبلغ دے-

دلته هم په دغه لړ کښې د ډاکټر علي خېل درياب د کلام په سنجولو سره د هغه په کلام کښې د ژوند په بېلا بېل حالاتو کښې د رجائيت عنصر رابرسېره کوؤم-

مينه محبت د انسان د فطرت برخه ده او په دنيا کښې د ژوند کولو يو مهم ضرورت دے- د انسان د ژوند تر ټولو ښکلے احساس دے او د ژوند حقيقي معنيٰ ده- د انسان دپاره د الله له طرفه يوه بې بها ډالۍ ده- خو ولې په دې کښې هم داسې سخت حالات، مشکلات او کشالې راځي- کله د محبوب بې وفائي، کله د معاشرې بند بزونه، کله نورې مجبورۍ او بد نصيبي وغېره چې د مينې او محبت په لار کښې خنډ او د عاشق او معشوقې دپاره د سر درد او زړه رنځ وګرځي- خو د دې سره سره د دې د سمون اُميد يو داسې احساس وي چې د دغه مئينانو د ژوند کولو يواځينۍ لار وي په کومې چې دوي يون کوي د يو ځائے کېدو خوبونه ويني- او که چرې دوي د اُميد لمن پرېږدي نو بيا داسې هم شوي دي چې دوي د دنيا د ژونده لاس وينځي- لکه په معلومو روماني داستانونوکښې د ادم خان درخانۍ ،دلے شهۍ او يوسف خان شېربانو کښې چې څه رنګ داسې قسمه واقعات وارد شوي دي چې محبوب د خپلې مينې يار سره د يو ځائے کېدو اُميد پرېښے دے او د دنيا نه ئې کوچ کړے دے-

ډاکټر علي خېل درياب هم د خپلې مينې په مېدان کښې په هر قسمه سختو حالاتو کښې د اُميد لمن نه پرېږدي او دا کلکه عقيده لري چې په سخته پسې راحته ضرور راځي، جفا په وفا او فراق په وصال بدلېدې شي او بې لارې شوے محبوب به دوباره په لاره شي- لکه چې وائي،

”اري د ژوندو اخر رابه شي
کېده ورته زړه په لار کښې واړوه"[5]

”اوس خبر دے ته زما لېونۍ مینې ته کوز ګوره
ارمان به وکړې بیا ګورې په ما پسې جانانه"[6]

ما به پرېړنږدي په یو قیمت یواځې
وې زما په خپل دریاب باندې باور دے"[7]

"په ژوندون خو رانه نشې بېلېدلې
یو ممکن زما په مرګ باندې دا کار دے"[8]

"ته که هر څو کوې انکار طمع مې نه خوریږي
په محبت مې دے اعتبار طمع مې نه خوریږي
زه د یوسف په خریدارو کښې تش لاس ولاړ یم
وتې لا نه یم دقطار طمع مې نه خوریږي
شپون که ئې اوژوه ټپه خو څوک وژلې نه شي
د یا قربان او یکه ځار طمع مې نه خوریږي
چرته کښې څوک خو د خپل فکر به ملګرے کړمه
زه پکښې کوم هغسې کار طمع مې نه خوریږي
زړه به دوخت په ارمانونو مې یو ځل وسوزي
یم په دردونو کښې سینګار طمع مې نه خوریږي
ما له برباد محبت دغه دلاسه راکوي
بېرته به راشي په دې لار طمع مې نه خوریږي"[9]

"ما د هغې ورځې نه چې کله رانه تلې یې
تا ته دروازې د زندګۍ پرانیستې پرېښې دي"[10]

الله تعالیٰ چې نړۍ ته څومره هم انسانان رالېږلي دي دوي د پېژندګلو دپاره د بېلابېلو خصوصیاتو په وجه په یو شمېر ډلو کښې ویشلې شوي دي ، د ډلو دغه ویش ته قام وئیلې شي- بیا د یو قام په خصوصیاتو او ځانګړتیاؤ کښې ژبه، کلتور، ډول ډال، خصائص او طبیعتونه وغېره شامل دي چې د مختلفو قامونو ترمېنځ د توپیر سوب ګرځي- د نړۍ هر وګړے فطرتي توګه د خپل قام سره مینه لري او په

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.4 No.3 2021

شعوري او غیر شعوري توګه دا هڅې کوي چې هغه خپل قام له هره رویه په اوچت مقام اووینې، هم له دې امله هغه دخپل قام محرومۍ او ستونزې له بېخه اوباسي او د خوشحال او خپل واکه قامونو سره ئې په صف کښې اودروي- په دغه لړ کښې هغه د خپل قام سره استحصال او ظلم هېچرې هم نه برداشت کوي او حسب توفیق خپل قام د ظلم د تیرو نه د رابهر کولو دپاره خپل مشال بل ساتي، څه چې ئې په وس کښې وي هغه کوي او ورسره ورسره د خپل قام د ښه او غوره سباؤن دپاره د اُمید د ډیوې نه لاس چاپېر ولاړ وي-

ډاکټر علي خېل دریاب هم یو قام پرسته او قام پاله شاعر دے او په خپل قام بې حده میئن دے- هغه که یو خوا د پښتون قام د مینې سندرې وائي نو بل خوا د دې قام په بدحالۍ او د زبون حالۍ په وجوهاتو هم خپل ژور نظر لري- یعني دهغه قام که څه هم کمۍ کوتاهۍ لري یا د غلیم له لاسه پرېوتے دے، ډاکټر علي خېل دریاب د هغې د حل لار دپاره همېشه پراُمیده دے- هغه د دې قام د پرمختګ او سوکالۍ خوبونه ښه په کلک او پوخ اُمید سره ویني- لکه چې وائي:

"مونږ پکښې وینې د زړګو سبزو د تبلو په ځائے
څنګ به روښانه نه وي دا د قام او کلي ډیوې"[11]

"کړي به راغونډې دا خورې پرګنې
داسې ټپه د غره د سره کیږي"[12]

"په دې وران شوي انغري کښې لا بڅرې شته دے
د قام پرستو لېونو سلسله ختمه نه ده"[13]

"=نور که هر څوک د قام د درد ځینې لاسونه اخلي
خو د شاعر او قلمکار طمع مې نه خوریږي"[14]

"دریابه زه خو د خپل قام ځنې مایوسه نه یم
وړ به پېدا شي د دستار طمع مې نه خوریږي"[15]

"له دې جنګرېز به نړیوال دارلامان جوړ کړم
زه به وطن دمحبت دخیال په شان جوړ کړم
ته په دهشت بربریت خاورې کوه دا خلق
ته به ئې ګورې زه د دوي نه به اسمان جوړ کړم
ترهه ګرۍ له به ریچ پیچ کړمه هډ هډ دکبر
دپښتنو دپرګنو نه به سندان جوړ کړم
څوک چې زما په ګلورینه خاوره اور لګوي
زه به پرې هم د سرو سکروټو نه باران جوړ کړم

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.4 No.3 2021

ستا به دهر ناروا کار په ږیره لاړې توکي
په پښتني هوډ به دنوي کهول ایمان جوړ کړم
دخپل کلتور بې حرمتۍ زما نه نه هېرېږي
ګورو به صبر کوه زه به درته ځان جوړ کړم
ستا مستقبل ته به دا ټوله دنیا وپسخوؤم
وطنه تا به د خوبونو ترجمان جوړ کړم
یا خو به زه پکښې وران وران شمه ویجاړ به شمه
یا خو اولس له به مات شوے اطمینان جوړ کړم
دریابه ! کر درناګانو دشعور کوؤمه
یو یو بچي نه به د نور ځانله کاروان جوړ کړم"[16]

"لا خو به دریابه پښتانه په نړۍ پېژنو
لا به د پښتو د فلسفې په اړ خبره کوؤ"[17]

د خپل وطن او خاورې سره مینه لرل د هر انسان په ختېه کښې اغړلې شوې ده- په کوم ځائے کښې چې انسان زېږېدلې وي، خړپوسې ئې کړې وي، او ژوند پکښې کوي هغه د دغه انسان وطن بللې شي چې هغه ورسره بې حده او بې لوثه مینه لري دریغه که هغه هر څنګه د محرومو او کمو ډک وطن وي خو هغه ئې په محلونو نه ورکوي او د هر انسان دا کوشش وي چې هغه خپل وطن د محرومو څخه ازاد کړي او په هر سهولت ئې شته مند کړي- په دغه لړ کښې که د هغه نور وس نه بر کیږي نو د اُمید لمن خو هیچرې له لاسه نه ورکوي او د خپل وطن د روښانه او سوکاله سباؤن د اُمید بڅرې ارومرو په زړه کښې بل ساتي-

ډ اکټر علي خېل دریاب هم د خپل وطن او ټاټوبي سره بې حده مینه لري او د دې د مینې د سندرو سره سره ئې د محرومو د سمون او خوشحالو اُمید په خپل زړه کښې لري او د خپل کلام په ذریعه ورته د اظهار جامې اغوندي- لکه چې وائي:

"د وطن ناوې تل به داسې خړه پړه نه یې
مومې ښکلا به دې نکهار طمع مې نه خوریږي"[18]

له دې جنګرېز به نړیوال دارلامان جوړ کړم
زه به وطن د محبت د خیال په شان جوړ کړم"[19]

"ستا مستقبل ته به دا ټوله دنیا وپسخوؤم
وطنه تا به د خوبونو ترجمان جوړ کړم"[20]

دا د دنیا دود او د ژوند برخه ده چې ښه او بد وختونه یا حالات په هر انسان راځي او انسان تر خپله مرګه د خپل حالت د سمون په تکل کښې وي- په بدو او خرابو حالاتو کښې د ښه اُمید ساتل د انسان یو داسې صفت دے چې هغه د وړاندې ژوند کولو دپاره پاروي او د هغه ژوند د مایوسۍ د تورتم نه رابهر کوي- ډ اکټر علي خېل دریاب که یو خوا د خرابو او بدو حالاتو نه سر تندے ټکوي نو بل خوا هغه د دې د سمون دپاره د خپل زړه په امېل کښې د اُمید ملغلرې هم پیئي او د خپل کلام په ژبه د خپل ځان سره د اورېدونکو او لوستونکو په زړه کښې هم د اُمید مشالونه بلوي- لکه چې وائي:

"د انتظار د شر به وشوکېږم
الله به راولي د خېر وختونه"[21]

دریابه اوس که خېري لړ پاتې دي
تېر شو د سختې پښتې ډېر وختونه"[22]

"وخت به راځي مونږ به کوؤ حساب د یو یو سره
زمونږ د ژوند د رڼایو د رنګینو قاتلان"[23]

"د سحرونو مخه نه شي نیوې
شپې که ته هر څومره تیاره راسپړې"[24]

"د تورتمونو خزانونه که هر څو غرونه شي
د رڼاګانو د بهار طمع مې نه خوریږي"[25]

"زه دریاب د حوصلو د ولولو یم
د حالاتو که هر څومره سترګې سرې دي"[26]

زمونږ کتاب کښې مایوسي هډو د سره نشته
زمونږ هیلې دي د روښانه سحرونو ډکې"[27]

دا شب پرسته حاسدان مې لاره نه شي نیوې
زه پتنګ خویه خو به خامخا مرام ته رسم"[28]

د علي خېل دریاب کلام د دغه پورته یو څو نمونو د سنجولو سره دا خبره لکه نمر روښانه شوه چې د هغه په کلام کښې د رجائیت یا اُمید ساتنې عنصر په دلودلو موجود دے . دغه د امید او رجا سره دې چې د ډ اکټر علي خېل دریاب د شاعرۍ ناوې ته ئې ارزښت بخښلې دے . او ددې سره سره ئې یو لوے کار

دا هم کړې دے چې د هغه شاعري ئې د مقصديت په بام اودرولې ده . خپلو خلقو ته ئې دا اميد ورکړې دے چې حالات که هر څنګه وي ولې د اميد او هيلې لمن پرېښودل نه دي پکار ځکه چې د هرې تيارې نه پس رڼا ارومرو راځي .د ډ اکټر علي خېل درياب دغه فکر د ادب د ژوند دپاره د نظريې ترجماني کوي . او زما په خيال په نني دور پر اشوب دور کښې چې هر سړے د مايوسۍ د بلا په کومې کښې دے ددا رنګې شاعرۍ ضرورت دے چې اولس ترې د ژوند په کړمو کښې رڼا واخلي په نااميده وګړو کښې د اميد يقين غزونې وکړي او ژوند ته راشي .

حواله جات:(References)

[1] انورجمال، پروفيسر، ادبي اصطلاحات، نيشنل بک فاؤنډيشن اسلام آباد، کال: 2016ء، مخ: 106

[2] ختک، فضل مير، فضليات، کتابت: محمد رسول پښتو اکيډيمي پېښور، کال: ۱۹۹۹ء ، مخ: ۲۱۲

[3] القرآن، سورة الحجر، پاره: 14، ايت: 56

[4] القرآن، سورة الزمر، آيت: 53

[5] علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) امانده، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۳۱

[6] هم دغه اثر، مخ:۸۹

[7] علي خېل درياب، ډاکټر، سندريز الهام (دويم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) امانده، کال: ۲۰۲۰ء، مخ: ۶۱

[8] علي خېل درياب، ډاکټر، د رنګونو لپې، خورونکي: ګران خپروندويه ټولنه، کال: ۲۰۲۴ ، مخ: ۱۵۳

[9] علي خېل درياب، ډاکټر، سندريز الهام (دويم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) امانده، کال: ۲۰۲۰ء، مخ: ۲۱۱

[10] علي خېل درياب، ډاکټر، رنګونه په زنځير، خورونکي: ګران خپرندويه ټولنه، کال: ۲۰۲۳ء، مخ: ۸۸

[11] علي خېل درياب، ډاکټر، عطرژن، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) امانده، کال: ۲۰۱۹ء، مخ: ۳۰

[12] هم دغه اثر، مخ: ۱۴۳

[13] علي خېل درياب، ډاکټر، د رڼاګانو سنګسار، خورونکي: اعراف پبلشرز پېښور، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۱۳۰

[14] علي خېل درياب، ډاکټر، سندريز الهام (دويم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) امانده، کال: ۲۰۲۰ء، مخ: ۱۱۱

[15] هم دغه اثر، مخ: ۲۱۱

[16] علي خېل درياب، ډاکټر، رنګونه په زنځير، خورونکي: ګران خپرندويه ټولنه، کال: ۲۰۲۳ء، مخ: ۹۸-۹۹

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.4 No.3 2021

[17] علي خېل دریاب، ډاکټر، د رڼاګانو سنګسار، خورونکي: اعراف پبلشرز پېښور، کال: ۲۰۲۲ء، مخ: ۴۳
[18] علي خېل دریاب، ډاکټر، سندریز الهام (دوېم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) اماندره، کال: ۲۰۲۰ء، مخ: ۲۱۲
[19] علي خېل دریاب، ډاکټر، رنګونه په زنځیر، خورونکي: ګران خپرندویه ټولنه، کال: ۲۰۲۳ء، مخ: ۹۸
[20] هم دغه اثر، مخ: ۹۹
[21] علي خېل دریاب، ډاکټر، د رنګونه دریاب، خورونکي: ګران خپرندویه ټولنه، کال: ۲۰۲۴ء، مخ: ۱۰۴
[22] هم دغه اثر، مخ: ۱۰۵
[23] علي خېل دریاب، ډاکټر، سندریز الهام (دوېم چاپ)، خورونکي: همېشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) اماندره، کال: ۲۰۲۰ء، مخ: ۵۷
[24] هم دغه اثر، مخ: ۷۰
[25] هم دغه اثر، مخ: ۲۱۲
[26] علي خېل دریاب، ډاکټر، رنګونه په زنځیر، خورونکي: ګران خپرندویه ټولنه، کال: ۲۰۲۳ء، مخ: ۱۶۳
[27] هم دغه اثر، مخ: ۱۹۷
[28] علي خېل دریاب، ډاکټر، د رنګونو لپې، خورونکي: ګران خپروندویه ټولنه، کال: ۲۰۲۴ء ، مخ: ۳٦